محمدایاز نوری آزادی ۱۸/ ۸/ ۲۰۱٦

# امیر امان الله خان:

## که عالم او پوه واست، هیڅوک ستاسو پر حقوقو تیری نشي کولای!

(د ۱۳۰۳ ل کال د کب د میاشتي نهمه د حقیقت له خپروني څخه)



## د غازي اعلیحضرت امیر امان الله خان نطق ملت ته!

### زما ګرانه ملته!

له دي الطافو او مبارکیو نه مو، چي ما عاجز ته وفرمائیلي، خپله ډیر شکران تاسو ته عرض کوم. زما خدای بهتر پوهیږي چي زه د خپل شخصي ژوند د ښه والي مقصد نلرم او یواځي ستاسو ملت د شرف، آزادي او عمومي سوکالي هیله لرم او بس. استقلال او پرمختک چي الله تعالی له خپل رحمت څخه د ستاسو د باتور عسکر په توره او ستاسو زړه ور قام په واسطه افغانستان ته عطا کړی او تاسو هغه ما عاجز پوري منسوب کوی، ستاسو د ګران ملت د قدرمنی نه مشکور او ممنون یم. زمونږ اسلامي باور تل مونږ د خدای مهرباني ته هیله مند کوي او چاري ټولي زمونږ پروردګار پر مخ وړي او نور په عالم د اسبابو کي یوه وسیله وي. هغه خپلواکي چي مونږ او تاسو پري بر لاسي شوي یو په ټول کښي د رحیم خدای یو رحمت پر مونږ دئ او کنه زه هم هغه خاوره یم چي یم. بیا الحمد الله چي مونږ مستقل یو او دغه تیر شیږ کلن پراو مو په عزت او استقلال کښي تیر کړاو له خپل خدای نه غواړم چي د افغان ملت تر کلونو کلونو خپلواک په شرف او عزت او سر لوړی اووسي.

هغه څه چي ستاسو استقلال او شرف د تل لپاره ساتي، عرض کوم چي څو شیان دي:

لومړی، د عسکري د شرافتمند خدمت دئ چي پر هر مسلمان وګړي ته یو ضروري امر دئ. بنا‌ئ‌ي چي ډیر او ډیر خپل سپاهیان قدر کړی او خپلو ظابطانو ته د درنښت او عزت په سترګه و ګوری او د نظام خدمت ته د یوه ستر اسلامي خذمت په شان نظر وکړئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنی پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

بل د علم او عرفان د پر مختګ موضوع ده، ځکه هغه ملت چې عالم نه وي ابداً خپل حقوق نشي ساتلای او ضرور نور د هغوی پر روا حقوقو تیری کوي.

ترا علم دردین و دُنیا تمام        که کار تو از علم گیرد نظام

که تاسو عالم او پوه اووسی، هیڅوک نشي کولای ستاسو پر حقوقو تیری وکړي. یوازی زما عاجز نصیحت تل تاسو ته دا دئ چې تاسو خپل ډېر شوق او مینه د عسکري خذمت او معارف ته ور وکړئ...!

حقیتاً تر څو چې تاسو د معارف په حصه کي پاملرنه ونکړی او ټول ناپوهه کسان مو یوې د پوهې کچې ته ونه رسوی، تاسو نه شی کولای چې خپل استقلال او خپلواکي وساتی. هداء راز کرنه، تجارت هم د استقلال محافظین دي. باید ستاسو تجارت په شه بڼه وي او کروندګر مو په جدیت سره کار وکړي تر څو د هغوی د ټنډې د خولو څخه توکي ملت او هیواد ته را دننه شي او له دې عائډ څخه بیا پوځ او معارف ستاسو پرمختګ وکړي.

که تاسو داسی فکر کړی وي چې د آزادي مالکان شوي یو نو کرار او آرام به کوو، دا غلطه ده. که څه هم الله الحمد هیڅ سستي او تنبلي په تاسو ګران ملت کي مي نه ده لیدلي خو بیا هم تینګار کوم چې ډېرجد او جهد وکړی، معارف، عسکر، کرنه او تجارت او نورو مدني چارو ته مو ترقي ورکړئ، چې اصلاً همدا شیان ستاسو خپلواکي درته ساتي. باقی له خپل خدای څخه مي دا هیله لرم چې د افغان ملت د نړی له بهترینو ملتونو څخه وګرزوي او الله زمونږ قادر دئ چې مونږ په دغه غوره مقاصدو کي بریالي کړي، ځکه مونږ غیر له هغه کبریا ذات نه بل چاته امید نلرو.

تو کریم مطلق و من گدا، چه کُنی جُز اینکه نخوانیم
در دیگری بنما بمن، بکُجا روم که برانیم؟

هغه مبارکي چې تاسو او دولت د شوراء استاذو دغه د ملت خادم ته وفرمائیلي، زه مننه کوم. ستاسو دغه قدرمني او د زغم ډېروالی مو په ما کي د هیواد د ترقي د مینې اور دوه واړې زیاتوي او شپه او ورځ سیواء ستاسو د آرامی او سوکاله ژوند څخه نور کوښښ نلرم.د خدای له لطفه د ډېرو پرمختګونو آرزو لرو او خدای هیڅ وخت خپل دوستان له خپل دربار څخه نه نا هیلي کوي.

په دې شپږو کلونو کښې د شاهي قطعي افسرانو او عسکرو علاوه پر خپلو اړونده دندو شخصاً ماته د قدر وړ خذمتونه تر سره کړي دي او په هیڅ وخت او زمان کي زما څخه بیل شوي نه دي او د وفا په یو ډک زړه یي ماته خپل صداقت راښودلای دئ. زه د شاهي رسالي څخه د رضایت اظهار کوم او په تقدیر د هغوی د خذمتونو که شخصاً ماته مربوطیږي، ټول هغوی ته د وفا نښان منظوروم او دغه ده په همداء شپه چې یوه مبارکه او ښه شپه ده نښانونه پخپلأ لاس هغوی ته تقدیم کوم او نورو ته یي په راتلونکي کښې ورکول کیږي. ( د حضارو چکچکی او خوشالي)

## متن دری پیغام

# نطق اعلیحضرت غازی به ملت افغانستان

منبع: جریده «حقیقت» چاپ کابل، ۱۹ حوت ۱۳۰۳ش

### ملت عزیز من!

از تبریکات و الطافیکه بمن عاجز فرمودید، خیلی ممنونیت خودم را عرض میکنم. خدایم بهتر میداند که من هیچ حیات و بهبودی و زندگانی خود را بکار ندارم فقط حیات با شرف و آرامی و استقلال و رفاه عمومی شما ملت را آرزومندم و بس! استقلال و ترقیات را که خداوند تعالی از لطف و مرحمت خویش به شمشیر عسکر دلیر و همت شما


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

قوم شجاعم به افغانستان اعطا کرده است و شما آنرا بمن عاجز نسبت میدهید ازین قدردانی شما ملت عزیزم متشکر و ممنون هستم. عقاید اسلامی ما همه وقت ما را به لطف خداوند امید وار میدارد و همه کار ها را پروردگار ما انجام میدهد دیگران بعالم اسباب یک واسطه هستند. استقلالیکه ما و شما به آن نائل شده ایم تماماً از مرحمت و لُطف خدای مهربان است و گرنه من همان خاکم که هستم.

باز الحمد لله که ما مستقل هستیم و این دوره شش ساله خود را با استقلال و حیات با شرف گذراندیم و از خدای خود میخواهم که ملت افغان تا سال های سال مستقل و با شرف و معزز و سرفراز باشد. چیزیکه استقلال و شرف دائمی شما را نگهبانی میکند عرض میکنم که چند چیز است:

اول خدمت با شرف عسکری که بر هر فرد مسلمان یک امر ضروریست. باید که بر زیاده عسکر خود را تقدیر کنید و ظابطان خود را بیک نظر عزت و احترام ببینید و خدمت عسکری را یک خدمت بزرگ مسلمانی بشمارید.

دیگر ترقیات علمی و عرفانی است. زیرا ملتیکه عالم نباشد ابداً حقوق خود را محافظه کرده نمیتواند و ضرور دیگران دست تعرض خود را بر حقوق مشروعه او دراز میکند.

ترا علم در دین و دنیا تمام　　　　که کار تو از علم گیرد نظام

اگر شما عالم و دانا باشید گاهی بر حقوق شما احدی تجاوز کرده نمیتواند. تنها توصیه من عاجز برای شما در همه وقت مزید شوق و محبت شما ملت است به خدمات عسکری و معارف!

حقیتاً تا شما در معارف کوشش نکنید و تمام اهالی نادان خود را بیک درجه عرفان نرسانیده، آزادی و استقلال خود را محافظه کرده نمیتوانید. همچنین زراعت و تجارت نیز محافظ استقلال میباشد. باید تجارت شما خوب باشد و زراعت گران تان بسیار جدی کار نمایند تا از عرق جبین آنها برای ملت و مملکت وارداتی بعمل آمده ازین عائد عسکر و معارف شما ترقی کند. اگر شما خیال کنید که ما استقلال را مالک شده ایم پس باید آسایش ورزیم، غلط است. اگر چه شما را کاهل نمیبینم و هیچ سستی و تنبلی را لله الحمد در شما ملت عزیزم مشاهده ننموده ام باز هم تاکید میکنم که باید شما بسیار جد و جهد و کوشش نموده عسکر و معارف و زراعت و تجارت و دیگر امور مدنی خود را ترقی بدهید که در واقع همین چیز ها استقلال شما را محافظه میکند. باقی از خدای خود آرزو دارم که مات افغان را بهترین ملت های روی جهان بگرداند و خداوند ما قادر است که ما را بدین مقاصد حسنه ما کامیاب کند. زیرا که ما جُز از دربار کبریائی او به دیگری امید نداریم.

تو کریم مطلق و من گدا، چه کنی جُز اینکه نخوانیم
در دیگری بنما بمن، بکجا روم که برانیم

تبریکی که شما و وکلای شورای دولت به این خادم ملت فرمودید از آن تشکر میکنم، قدردانی و حوصله افزائی های شما آتش عشق وطنم و آرزوی ترقیات شما را به دل من دو چندان میسازد و شب و روز بجُز از رفاه و آسوده حالی تان به دیگر چیزی کوشش ندارم و خداوند هیچ وقت دوستان خود را از دربار خود نا امید نمیسازد.

درین شش سال صاحب منصبان و افراد رساله شاهی علاوه بر وظائف عسکری خود ها خدمات شایسته برای شخص من انجام داده اند و در هیچ وقت و فُرصت از من جدا نشده اند و با یک قلب مملو از وفا ابراز صداقت کرده اند. من از رساله شاهی اظهار رضامندی میکنم و به تقدیر خدمات آنها که نسبت به شخص خود من است، برای همه شان نشان وفا منظور کرده ام و اینک برای آنها در همین شب که یک شب مبارک و خوب است، نشانهای شانرا بدست خود تقدیم میکنم و به دیگران شان در آتیه داده میشود. (کف زدنهای شاد)

پایان

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ